# موږ غوښتنلیکونه څنګه پروسس کوو

کله چې ستاسو غوښتنلیک لاسته راوړو، له دې څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره به یې بیا وګورو

- چې تاسو ټول اړین اسناد پکې ځای پر ځای کړي
- بشپړ دی
- تاسو د مستحوالي ټولې غوښتنې پوره کړې دي

کله مو چې غوښتنلیک پروسس کېږي، تاسو **تاسو باید موږ ته ووایئ** که

- تاسو خپل ادرس بدلوئ
- خپل د اړیکو نیولو معلومات بدلوئ
- په کورنۍ کې مو بدلون راځي (د نوي ماشوم زیږېدنه، د چا مړینه یا طلاق)

**که مو د غوښتنلیک نوي کول غواړئ** له موږ سره زموږ د ځانګړو اقدامانو وېب فورم له لارې اړیکه ونیسئ که درنه **وپوښتل شي چې څه کول غواړئ** په خپل غوښتنلیک کې بدلون راوستل وټاکئ.

که مو غوښتنلیک بشپړ نه وي
بېرته به یې دروستوو. کله موږ چې پاتې برخې ور زیاتې کړې، بیا یې راته سپارلی شئ. که پروګرام ډک شوی وي، ستاسو غوښتنلیک ته بنایي پام ونه شي.

که مو غوښتنلیک بشپړ وي
موږ به د ترلاسه کولو یوه تاییدي درولېږو. موږ همدارز بنایي له تاسو او ستاسو د کورنۍ له هغو غړو چې په غوښتنلیک کې مو ځای کړي، وغواړو چې

- نورو معلوماتو ته د اړتیا په صورت کې انټریو ته راشي
- که اړتیا وه، فنګرپرینټ او عکس (بایومتریک), مو راکړئ
- که مو تر اوسه نه وي کړي طبي معاینات, مو بشپړ کړئ
- که مو په غوښتنلیک کې څوک 18 یا تر دې زیات عمر ولري، د پولیسو سرتیفیکټونه یې واخلئ

# که مو ستاسو غوښتنلیک بشپړ کړ

موږ به اړیکه درسره ونیسو چې بوه شئ او په راتلونکو پړاوونو کې به نور معلومات درکړو. په کاناډا کې مو له کورنۍ سره باید په اړیکه کې وئ او د خپل غوښتنلیک په اړه تازه معلومات ورکوئ. دا به له دوی سره مرسته وکړي چې ستاسو رسېدو ته تیار وي.

موږ به همداراز په کاناډا کې ستاسو د کورنۍ غړي خبر کړو چې څه وخت مو د رسېدو په تمه وي.

مخکې له دې چې کاناډا ته حرکت وکړئ
مخکې له دې چې تاسو او کورنۍ مو کاناډا ته حرکت وکړو، موږ به

- موږ به د روغتیایي خدمتونو ټول هغه لګښتونه راونغاړو چې تاسو کاناډا ته د سفر لپاره اړتیا ورته لرئ، لکه
  - د کډوالۍ طبي معاینه
  - د داسي روغتیایي ستونزي درملنه چې که پاتې شي په کاناډا کې نه منل کېږئ (لکه توبرکلوز)
  - هغه طبي ملاتړ چې تاسو کاناډا ته د خوندي سفر لپاره اړتیا ورته لرئ
  - معمول واکسین
  - د ناروغۍ د خپرېدو کنټرول
- ستاسو د غوښتنلیک د پروسس کولو پر وختو د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له لارې په بهر کې خدمتونه وړاندې کول
  - په دې کې ښايي په هغه هېواد کې موقت کور برابرول شامل وي چې تاسو سفر ترې کوئ(که ممکنه وه).
- د کډوالۍ د پورونو پروګرام ته لاسرسی درکوي چې له لارې یې تاسو کاناډا ته د ټک لګښتونو د پوښښ لپاره له سود پرته او بېرته ورکول کېدونکی پور اخیستی شئ
- له تاسو سره مرسته کوي چې د IOM له لارې مو سفر بوک کړئ (دا خدمت لګښت لري)

کله چې کاناډا ته ورسېږي

*د موقت فدرال روغتیایي پروګرام له لارې د روغتیایي پاملرنې پوښښ ترلاسه کړئ*

د دغه عامه پالیسی له لارې به تاسو [د موقتي فدرال روغتیایي پروګرام](#) (IFHP) له لارې محدود او موقتي روغتیایي پوښښ ترلاسه کړئ، لکه

- (تر هغه چې تاسو له IFHP څخه بهر د ولایتي یا سیمه‌ایزې روغتیایي پاملرنې بیمې لپاره وړ یاست)
- [د اضافي امتیازونو او نسخه‌اې درملو د پوښښ تر](#) 12 میاشتو پورې

*د ځای پر ځای کولو د همکارۍ پروګرام (Resettlement Assistance Program) له لارې مالي مرسته ترلاسه کړئ*

تاسو د د ځای پر ځای کولو د همکارۍ پروګرام (RAP) له لارې د یو ځل تادیې مستحق یئ چې د عاید د ملاتړ له 3 میاشتو سره مساوي ده. تاسو اړ نه یئ چې د دې لپاره اپلای وکړئ، خو باید د مستقیمې زخیرې لپاره د کانایې بانکولۍ معلومات راکړئ. په کاناډا کې ستاسو د کورنۍ غړی به هغه ایمیل ادرس ولري چې تاسو د کاناډایي بانکولۍ معلومات ترې استولی شئ.

دا پیسې او هغه ملاتړ سره چې تاسو به یې په کاناډا کې له خپلې کورنۍ ترلاسه کړئ، له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره مرسته کوي چې په کاناډا کې نوی ژوند پیل کړئ.

*په کاناډا کې د ځای پر ځای کېدو په برخه کې مرسته ترلاسه کړئ*

په داسې حال کې چې موږ به تاسو ته د روغتیایي پاملرنې پوښښ او مالي خدمتونو ته لاسرسی درکړو، موږ تمه لرو چې په کاناډا کې ستاسو د کورنۍ غړي له تاسو سره مرسته وکړي (او له هغه چا سره چې له تاسو سره راځي). ستاسو د کورنۍ غړي باید

- ستاسو له رسېدو مخکې تاسو ته د موقت کور پیدا کړي(که مو واکسین نه وي کړي ځان ډاډه کړئ چې د ) [قرنطین غوښتنې](#) مو پوره کړي
- له هوایي ډګره مو واخلي او له هوایي ډګره ټرانسپورټېشن درته برابر کړي
- د کاناډا له مالي ادارې سره د بانکي حساب تنظیم کولو کې به ستاسو مرسته وکړي او ستاسو بانکي معلومات به موږ ته راواستوي (ستاسو د یو ځل عاید د ملاتړ د تادیې لپاره)
- له تاسو سره د ولایتي یا سیمه‌ایز روغتیایي پوښښ لپاره په اپلای کولو کې مرسته کوي، ستاسو د نوي روغتیایي کارټ په ګډون
- له تاسو سره به کار وکړي چې دایمي کور پیدا کړئ

تاسو به همداراز [د نویو راغلو وړیا خدمتونو](#) ته لاسرسی ولرئ چې مرسته درسره کوي

- په کاناډا کې د کار او دندې موندلو په اړه زده کړئ
- انګلسي یا فرانسوي زده کړئ
- ماشومان مو په ښوونځي کې شامل کړئ
- د مهارتونو د لوړولو او روزنې فرصتونه پیدا کړئ
- هغه خدمتونه ترلاسه کړئ چې د ښځو، مشرانو، ځوانانو او LGBT2 خلکو لپاره دي
- د ځای پر ځای کولو په پروګرام (Settlement Program) کې نور د لاسرسي وړ ملاتړونه پیدا کړئ

## که مو غوښتنلیک رد کړو

موږ به یو لیک درولیږو او تاسو به خبر کړو چې ستاسو غوښتنلیک مو ولې رد کړ.